# د افغانستان اسلامي امارت
# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت
# د فطر د صدقې ( سرسايې ) احکام

- **د فطر د صدقې حکم:** د فطر صدقه ورکول، واجب دي.
- **د فطر د صدقې حکمت:** د فطر د صـدقې د ورکولو حکمت، د روژتي او د هغه د مال پاکوالی، د هغه د روژې د نیمګړتیاوو جبیره کول او همدارنګه له اړمنو خلکوسره مرسته کول دي.
- **د فطر د صدقې شرطونه :** د فطر صدقه، پر هر هغه مسلمان، چې ازاد او مال يې د زکات د نصاب په اندازه او له اساسي اړتیاوو زیات وي، واجبه ده.
- **د فطر د صدقې د وجوب وخت:** د فطر صدقه، د کوچني اختر د ورځې له سپېده چاود سره واجبيږي (غوره وخت يې، د اختر له لمانځه مخکې او د رمضان مياشتې په اوږدو کې ورکول يې جواز لري).
- **د فطر د صدقې ورکوونکي :** هر هغه کس چې د فطر د صدقې شرطونو لرونکی وي، هم د خپل ځان او هم د هغو کســانو لخوا د فطر صدقه ورکول پرې لازم دي، چې نفقه يې د ده پر غاړه ده، لکه: نا بالغه اولاد (د خپلې ښځې او غټو اولادونو له طرفه د فطر صدقه ورکول پرې لازم ندي، خو ورکول يې، جواز لري).
- **د فطر د صدقې توکي :** د فطر صدقه، له څلور ډولو خوراکي توکو (غنم، وربشـــې، خرما، مميز) ورکول کيږي. خو له دغو شيانو د يوه شي په بدل کې، نغدي پيسې د فطرانې په توګه ورکول، غوره والی لري.
- **د فطر د صدقې مستحقين:** د فطر صدقه، د زکات مستحقينو (فقير، مسکين، د زکات ټولوونکي، پوروړو، فقيرانو مجاهدينو، مسافرو) ته ورکول کيږي.

**د ۱۴۴۳ هـ ق / ۱۴۰۱ هـ ش کال د روژې د فطر صدقه (د يوه کس لپاره)**
**لاندې جدول، د کابل ښار د فطر د صدقې د څلور ګونو خوراکي توکو، د هغو اندازې او بيې لپاره دی:**

| شميره | جنس | وزن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | ۱۹۰۰ ګرام | ۹۰ - افغانی |
| ۲ | د غنمو اوړه | ۱۹۰۰ ګرام | ۹۵ - افغانی |
| ۳ | وربشې | ۳۸۰۰ ګرام | ۱۸۰ - افغانی |
| ۴ | د وربشو اوړه | ۳۸۰۰ ګرام | ۱۹۰ - افغانی |
| ۵ | خورما | ۳۸۰۰ ګرام | ۵۳۲ - افغانی |
| ۶ | مميز | ۳۸۰۰ ګرام | ۱۰۲۶ - افغانی |

**يادښت :**

- پورته د يادو اجناسـو کره اندازه ټاکل شـوې. د احتياط له مخې غوره ده، د غنمو د يوې فطرانې اندازه (۲) کيلو په پام کې ونيول شي، چې بيه يې (۹۵) افغانی او د اوړو يې (۱۰۰) افغانی کيږي او همدا راز د پاتې نورو اجناسو د يوې فطرانې اندازه هم (۴) کيلو په نظر کې ونيول شي، چې د وربشو (۱۸۹)، د وربشو د اوړو (۲۰۰)، د خرما (۵۶۰) او د مميزو (۱۰۸۰) افغانی کيږي.
- هر ولايت کې، د دغو اجناسو په بدل کې، د نغدو پيسو ورکولو په صورت کې، بيه يې بايد د ځايي نرخ له مخې ورته وټاکل شي.

د اطلاعاتو او عامه پوهاوي رياست